# د ژویو نړۍ



Ketabton.com

۹

د سنايي پرمختيايي موسسې له خپرونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹

# د ژویو نړۍ


| | |
|---|---|
| خپرونکې | د سنايي پرمختيايي موسسه |
| مسول مدير | راز محمد دليلي |
| ليکونکي | محمد رفيع کابلي |
| پښتو ژباړه | سيد حامد هاشمي |
| انځورګر | فتانه بکتاش عارفي |
| کمپوز او ډيزاين | سيد نذير حسيني |

لومړی طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۶ د وري مياشت.
دوهم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۷ د زمي مياشت.
دريم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۸ د زمي مياشت.
څلورم طبع : ۲۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) د ۱۳۸۹ غويا مياشت.



اتم سړک، قلعه فتح الله د سنايي موسسه، په کابل کې پته
ټيلفون: ۰۲۰۲۲۰۱۶۹۳
۱۸۱: پوست بکس
بریښنا لیک: sleo@brain.net.pk
انټرنيټ پاڼه: www.sanayee.org
اورګزي پلازې شاته، يونيورسټي ټاون، پېښور پاکستان، په پاکستان کې پته.
ټيلفون: ۰۰۹۲-۹۱-۵۸۴۲۱۵۵-۹۱۵۸۲۱۶۵
فکس: ۰۰۹۲-۹۱-۵۸۴۵۱۳۹



ددې کتاب ټول حقوق د سنايي پرمختيايي موسسې پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹

# دژویو نړی

## تصویري کیسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر اوسنی چاپ سریزه

د کوچنیانو لپاره خپورشوی نهم کتاب د (SDO) له خوا د لومړي ځل لپاره ۶۰۰۰ ټوکه چاپ شول او د مینه والو لوستونکو په اختیار کښی مو ورکړل. دغه کتاب د مخکینیو کتابونو نه په توپیر سره. په نوي کړنلارې او تازه متن سره وړاندې شو. چې بې شمیره لوستونکي لري. د حکیم سنایي پرمختیایي موسسې د کتاب اوسني چاپ ته په داسې حال کښی عزم وکړ چې هیله لري نور کتابونه هم په همدې میتود او طریقـــــــې ســــــــره وي او هیله لري چې د کتاب مینه والو لوســـتونکو او دوســـتانو لپاره د خدمت جوګه وګرځي چې پر معلوماتو کې بې زیاتوالی راشي.

والسلام

سید فاروق (یعقوبی)

دسنایی پرمختیایي موسسې (SDO) مرستیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د حکیم سنايي د موسسې اداره په دې وياړي چې د ښوونيزو او روزنيزو آثار و د چاپولو په لړۍ کې يې د دې کتاب په چاپولو هم لاس پورې کړی او د چاپ په ګانه يې ښايسته کړی دی.

دغه کتاب ديو ځوان ليکوال احمد فريد «عارفی» په همت سره ليکل شوی او د دې کتاب تو پير د دې لړۍ له کتابونو سره دا دی چې په دې کتاب کې د ښوونيزو او روزنيزو اړخونو ترځنګ چې په حقيقت کې د دې موسسې اساسي موخې او اهداف جوړوي، معلوماتي اړخ ته هم ډيره توجه شوې ده. هڅه شوې تر څو هر اړخيز او پراخ معلومات د ډول ډول الوتکونو او ځنبيدونکو ژويو په اړه د سوال او ځواب او ساده او آسانه کړنلارې سره برابر وړاندې او د ټولنيزې پوهيدنې وړ وګرځي.

همدا راز کولای شو چې له دغه اثر څخه د يو ښه معلوماتي او درسي کتاب په حيث ګټه پورته کړو.

همدا رنګه د کتاب لپاره انتخاب شوی تصويرونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

شـکلونه چې د متن سره مطابقت او ورته والی لري د لوستوونکو او ځوانانو لپاره به د مطالبو په پوهیدنه کې مرسته وکړي او دوي ته به دا آسانه کړي چې د مطالبو پر مفاهیموژر پوه شي.

په پای کې د سنایي تعلیمي او ښوونیز انستیتوت هیله مند دی چې دې شانته په زړه پورې او ګټورو آثارو په خپرولو سره د راتلونکي نسل د ښوونې او روزنې په برخه کې متین ګامونه پورته کړي او له دې لارې خپل ملي رسالت د خپلې ځوریدلې او جنګ ځپلې ټولنې په وړاندې اداء کړي.

و من الله التوفیق


سید فاروق یعقوبي

د سنایي پرمختیایي موسسې (SDO) مرستیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دژويو نړۍ

ټولو زده کوونکو د تفريح ګړنجاني ته ليواله انتظار کاوه ددې لپاره چې د بيولوژي ښوونکي ورسره وعده کړې وه چې دلومړي ځل لپاره په علمي سفر لاړشي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

بـــلاخره د ګړنجاني په ګړنجولو د ټولو انتظار پای ته ورسید او د بیولوژي ښوونکی ټولګي ته ننوت وروسته له سـلام وړاندې کولو او له ستړي مه شــي نه يې زده کوونکو ته پرداسې خبرو پیل وکړ:

ګرانو زده کوونکو لکـه څرنګه مـې چې په تیـره ورځ کنبې تاسـو ته ویلي وو چې د بـیولوژي مضمون ستاسـو لپاره نوی مضمون دی. د دې لپاره چې تاسې له ډول ډول ژویوا و د هغو د خویو نوسره آشنا شي. دادی نن ورځ مونږ او تاسو د ژوبڼ خواته ځو او هلته د ډول ډول ژویو په هکله معلومات لاس ته راوړو، همدا رنګه زماهیله له تا ســو څخه دا ده چې په منظم ډول سره دوه دوه کسان یوبل پسې بې له شور او ځوګ څخه حـرکت وکړئ. پر عمومي سـړك ترافیکی قوانینو ته ډیره پاملرنه وکړئ او ډیر په احـتیاط او غورسـره له سـړك نه تیرشـئ، که چیرته مو د مختلفو ژویو په اړوند کومه پوښتنه درلودله. خپل ځان سـره يې ولیکئ او د ژوبــڼ له واکمن ســره چې وړاندې ما هم په همدی اړوند ورسره خبری کړي او وخت می ترې اخیستی دي و پوښتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکی صاحب د خبرو د پای ته رسیدو سره سم ټولو زده کوونکو په منظم ډول د ژوبڼ په لور تګ پیل کړ کله چې ژوبڼ ته ورسیدل د هغه ځای مسئوول کس زده کوونکو او ښوونکی ته هرکلی و وایه، وروسته له هر کلي ښخه یې ټولوته ښو دنه وکړه او ورته ویې ویل: په لومړي پړا و کښې د ښبیدونکو او مارانو ننداره وکړی.



ټولو زده کوونکو په لومړي ځل کښې د مارانواو د ټولو ثښېدونکو ليدنه او کتنه وکړه. چې دا ليدنه ورته ډېره په زړه پورې وه پدې وخت کښې مسئوول کس له زده کوونکو نه هيله وکړه چې ډير په ورو ورو سره پدې صالون کښې وګرځي او را وګرځي مختلف چارتونه چې د ډول ډول ژويو او ثښېدونکو تصويرونه پکښې دي او د صالون پر ديوالونو ځړول شوي وه کتنه وکړي او که چيرته پوښتنه لري کولای شي چې ويې پوښتي احمد ددې هيلې په اوريدلو سره د بيولوژي له ښوونکي نه اجازه وغوښته او داسې يې وپوښتل.


پوښتنه: وبښئ ولې د غوته خښيدونکي وايي؟
ځواب: مسئوول سړي په ځواب کې ورته وويل: دې ژويو ته له دې کبله ثښيدونکي وايي چې د تللو پروخت کښې په سينه ثښيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: وبـــــــخښئ په نړۍ کښې الله(ج) څو ډوله
ځښېدونکي پیدا کړي دي؟

ځواب: تر اوســــــه پورې تقریبــــــاً ۶۰۰۰ ډوله
ځښېدونکي پیژندل شـــــــوي چې پر څلورو ګروپونو
ویشل شوي دي.

**۱ – ماران او څرمښکي**



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲ – نهنګان او تمساح ګاني





(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳– کشپان او شمشتي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴– غټې سمسرې.



د دغو ژيو عکسونه پر هغه چارټ کې چې د ديوال پر مخ ځړول شوی ښودل شوي دي. وروسته بيا نومورې هغه چارټ ته اشاره وکړه چې پر ديوال نصب شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا حمد پرپوښتنه ټول زده کوونکي وهڅول شول او ورو ورو یې پرپوښتنو پیل وکړ.

پدې وخت کښې د همدې ټولګي یو بل زده کونکي محمود داسې وپوښتل:

پوښتنه: د نړۍ تر ټولو اوږد مار څومره اوږد والی لري؟ مسئوول کس په یو بل انځور ښودلو سره چې په هغه کښې یو مار دیو سرویس موټر سره لیدل کیده داسې زیاته کړه.

ځواب: د نړۍ تر ټولو لوی او غټ مار چې د افریقا په منطقو کښې ژوند کوي (١٠،٢٦M) لس متره او شپږویشت سانتي متره اوږد والی لري او د یو سرویس موټر نه نسبتاً اوږد دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

خالد یوبـــــــل زده کونکي د وخت نه په ګټې
اخیستنې سره داسې وپوښتل:

پوښتنه: وښـئ هغه غټ مار چې د هندارې هغه اړخ ته ده (د مار خواته اشـــــاره) د څرمنې پر مخ یې یو پلاســـتیکي ډوله پوښ لیدل کیږي هغه د څه د پاره دی.

مسئوول کسی د ښیښې خواته په نږدې کیدلو سره چې په کښې مار وُ داسې ځواب ورکړ:

د مارانو او څرموښکیو په مختلفو وختونو کښې د بـــدن د غټیدو په خاطر نوې څرمن د بـــدن په چاپیر کښې جوړیږي او زړه څرمن لکه څرنګه چې تاســو وینئ د نازکه پلاستیک ډوله پاڼو په توګه له بدن څخه بیلیږی او دامار د څرمنې اچولو په حال کښې دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره بله مهمه موضوع د مارانو او ځرموښکیو په اړوند د رنګ بدلول دي. خود دغه خصوصیت بیا ټولو مارانو او ځرموښکیو کښې شتون نه لري. یوائنې یو رنګ خصوصي نصواري او بید یایي ماران چې د تورو خالونو لرونکي او یو ډول شنې ځنګلي ځرموښکی چې د تورو خالونو لرونکې دي دا خاصیت لري چې د خطر پروخت خپل رنګ بدلوي د کومې ځمکې پر سر چې وی هماغسې ځان جوړوي دادوه ډوله انځورونه پر دیوال ځړول شوي، کتلای شي.

د ژوبڼ د مسئوول د خبرو پای ته رسیدلو سره سم، یو بل



(c) ketabton.com: The Digital Library

وحید نومي زده کوونکي له هغه څخه داسې پوښتنه وکړه:

پوښتنه: آیا دغه څښبیدونکي یعنې ماران او تمساح ګانې او داسې نور، انسان ته ضرر رسوي او که نه؟

ځواب: هو اکثر ددې ډیر خطرناك دي چې حتی د انسان د مړه کیدلو سبب ګرځی. د ملګرو ملتونو د راپورونو له مخي د کال (۵۰۰۰۰-۱۰۰۰۰۰) کسانو پورې په نړۍ کې له مار چیچلو څخه صدمه ویني. ددې تر څنګ له (۱۰۰) څخه زیات کسان په د یو ډول مخصوص کروکودیل په واسطه چې د تروو اوبو په کروکودیل پیژندل کیږي مړه کیږي بې له دې نه بعضی نور څښبیدونکي هم دي چې ډیر خطرناك او مضر دي او د انسانو د مړه کیدو وړ ګرځي



(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بــهیر کښې یو بــل زده کونکی حــارث چې د څښیدونکو د انځورونو په لیدلو ســـره چې د ښکار کولو په حال کښې وو داسې پوښتنه وکړه.

پوښتنه: دا څښیدونکي څه شـــــی خوري او خپل خواړه څنګه برابروي.

ځواب: زیات څښیدونکي غوښه خوړونکي دي او خپل خواړه د ښکار له لارې برابـــــروي او هریویې په مختلف ډول ښکار برابــروي او خوړلو ته یې جوړوي د مثال په ډول(بوا) مار چې زیات په افریقا کښې موجود دي له ښکار نه خپل ځان تاو او راتاو وي ترڅوهډ وکـي یې مات شي چې د خوړلو په وخت کښې نرم شي او بـیا د هغه نه ګټه واخلی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

تمســــــاح ګاني او کروکوديلونه لومړی د غاښونو په واسـطه ښکار ښه ميده کوي او وروســـته له هغه نه يې خوري او يو شمير نور ځښيدونکي د زهر و په اثرسره چې په بـــــدن کښې يې دي لومړی ښکار له پښو څخه غور ځوي او وروسته له هغه يې خوري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بهير کې د ژوبڼ مسئوول کس يو غټ انځور ته چې پر مخامخ ديوال ځړېدلی و، اشــاره وکړه او مخ يې زده کوونکوته واړا وه. دا کوبرا مار دی چې د يرغل په حال کې دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: احـــــمد دويم ځل پوښتنه وکړه چې ښوونکی صاحب! کوبرا مار کوم ډول مار دی؟

ځواب: کوبـرا یو ډول مخصوص مار دی چې په امریکا او هندوســتان کې په ډیر شــمیر ســره پیدا کیږي. کله چې پر ښکار یا دښمن باندې د حملې په حالت کې وي.

دا حالت ځانته غوره کوي او دښمن پر چیچلو سره له پښو غورځوي.

پوښتنه: نو ترټولو زهرلـرونکـی مـار همـدا دی او کـه څرنګه؟

ځواب: نه، بـــــلکې د نړۍ ترټولو زهري مار د (تایپن) په نوم یادیږي چې د آسترالیا په شمال لویدیز او نوي ګیني کې موجود دي او ډیر قـــــــوي زهرلري چې د یو وار زهر یې د(۱۲۵۰۰۰) موږکانو د مرګ لپاره کفایت کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ ترټولو سمندري زهري مار (هایدروفیس) په نوم یادیږي. دغه ډول ماران د آسټرلیا په شمال لویدیځ د «تیمور» دسیند په اوبو کې ژوند کوي چې زهر یې (۱۰۰) ځله د تایپن له مار څخه قوي دي.



پوښتنه: آیا ماران هم هډوکي لري که څرنګه؟

ځواب: هو! ټول ماران هډوکي لري، خو هډوکي یې ډیر نرم دی په دې لړۍ کې یو بل زده کوونکي د حمید

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نوم د ژوبڼ له مسئوول کس څخه پوښتنه وکړه:

پوښتنه: آیا ماران خپل زهر د ښمن بدن ته د خپل نیښ په واسطه لیږدوي او که څرنګه؟

ځواب: نه ، ماران په نیښ وهلو سره نه بلکې په چیچلو او په غاښونو سره زهرد ښمن بدن ته لیږ وي ځکه چې هغوې په خپله پورتنۍ ژامه کې یو ډول مخصوص غاښونه لري چې د غه غاښونه د یو نري نل په ذریعه د هغوي زهري کڅوړو سره تړل شوي چې د چیچلو پر وخت زهر د همدغو غاښونو له لارې د ښمن بدن ته لیږ دوي او هغه له پښوو غور ځوي. په دې وخت کې یو بل زده کوونکی چې متین نوم لري داسې و پوښتل:

وبښنۍ آیا دا رښتیا ده چې د ښنید ونکو تر مینځ کشپان دیر عمر لري او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب:هو ! کشپان د ځښندونکو تر مینځ ډیر زیات عمر لري او د هغوي اکثریت تر (۱۵۰) کالو پورې عمر لري او په دغه پاڼه کې تاســــــو د دغه ډول کشپانو عکسونه لیدلای شئ. وروسته یې د کشپانو ډول ډول تصویرونه هم زده کوونکو ته وښودل .



(c) ketabton.com: The Digital Library

و بخبنیٔ اځبنید ونکي څرنګه بچي زیږوي؟

زیات ځبنید ونکي لکه ماران، څرموښکې، تمساح، ګانې کشپان او کروکو ډیلونه د هګۍ اچونې له لارې بچي زیږوي او خپل نسل تولید وي، لومړی هګۍ اچوي او وروسته لکه څرنګه چې د چرګانو له هګیو څخه یو څه موده وروسته بچي را وزي د دوي هم په همدې ډول دي.

یو مار هر ځل څو بچي زیږوي؟

دا موضوع د مار په څرنګوالي پورې اړه لري. ډیر ماران دیول ځل هګیو اچولو پر وخت له ٦٠ څخه تر ١٠٠ بچیو پورې زیږ ولای شي.

ددې خبرو پاي ته رسیدلو سره سم د ژوبڼ مسئوول کس له ښوونکي صاحب او زده کوونکو څخه وغوښتل څو د الوتونکو ځانګې خواته ولاړشي. دی پخپله له زده کوونکونه وړاندې شو او دوي ته یې لار ښوونه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الوتونکو ځانګې ته درسيدو او د ډول ډول الوتونکو په ليدلو سره چې په ښکلو او غټو قفسونو کې وو، زده کوونکو ډير خوند واخيست، يو بل ته يې د الوتونکو زړه راښکونکي رنګونه ښودل او له هغوي څخه به په تعجب کې کيدل. د الوتونکو په شا او خوا ګرځيدو را ګرځيدو سره زده کوونکو ته ډيري پوښتنې ذهنونو ته راتللې او ټول د پوښتنې کولو په انتظار کې وو.

بالاخره ښوونکي صاحب له زده کوونکو څخه وغوښتل چې که چيرې د دې ځانګې په اړه څه پوښتنې لري نو کولای شي چې له مسئوول کس څخه يې وپوښتي. په دغه وخت کې صديق يو تن زده کوونکی د مسئوول تن خواته په نږدې کيدو سره داسې پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: په نړۍ کې تر اوسه څو ډوله الوتونکي پیژندل شوي دي؟

ځواب: تر اوسه پورې په نړۍ کې له (۹۰۰۰) ډوله نه زیات الوتونکي پیژندل شوي او په بیلابیلو ډولونو ویشل شوي دي. وروسته یې بیا له خپل دفتر څخه یو کتاب چې ټول دالوتونکو په هکله او د ډول ډول الوتونکو تصویرونه پکښې وو. هغه یو شمیر تصویرونه ضمناً هغه پاڼه چې پکښې د (۲۸) ډوله الوتونکو تصویرونه وو زده کوونکو ته وښودل او ویې ویل: په دې پاڼه کې تاسو یو یو الوتونکې د نمونې په ډول کتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: آیا الوتونکي هم زهرلري؟

ځواب: نه! فقط یو ډول الوتونکي چې د «زهري الوتونکي» په نوم یادیږي او د نوي «ګیني» په هیوادکې ژوند کوي زهري دي. نور الوتونکي زهري نه دي، له دې کبله انسانانو ته خطر نه لري. د یادونې وړده چې د زهري الوتونکي پوټکی او بڼې یو ډول مخصوص زهر لرونکي دي چې د انسانانو لپاره خطرناکه دي. وروسته یې د دغه الوتونکي تصویر هم زده کوونکو ته وښود.




(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرازق یوبل زده کوونکي داسې وپوښتل:
په نړۍ کې ترټولو لوی الوتونکی کوم دی؟
ځواب: په نړۍ کې ترټولو لوی الوتونکی شــتر مرغ دی چې زیات یې شـــمالي او لویدیزې افریقــا اوآســترالیا کې ژوند کوي او لوړوالی یې دوه متره او اویا سانتي (۲.۷) ته رسیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

ضمناً د یادونې وړ ده چې ترټولو غټه هګۍ د همدې الوتونکي ده چې تقریباً (۲۰cm) شل سانتي اوږدوالی او تقریباً یوه کیلو او شپږ سوه او پنځوس ګرامه (۱.۶۵۰) وزن لري. تاسو کولای شي چې تصویرېې په دې کتاب کې ووینئ چې له یوې عادي هګۍ سره پرتله شوې ده (وروسته یې عکس ورته وښود)



(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې لړۍ کې شفیق یو بل زده کوونکي داسې پوښتنه وکړه:

وبخښئ: دا الوتونکی په دومره غټ والي سره څرنګه الوزي؟

ځواب: دغه الوتونکی الوتلای نشي بلکې د ځمکې پرمخ ژوند کوي او پدې هم باید و پوهیږئ چې ددې الوتونکي د منډې سرعت هم ډېر زیات دی چې (۷۲km/h) ته رسیږي. یعنې په یو ساعت کې (۷۲) کیلو متره مسافه طي کولای شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

عثمان یوبل زده کوونکي داسې و پوښتل:

دژر الوتلو په لحــاظ په نړۍ کې کوم الوتونکی تیز دی؟

ځواب: د ســـــرعت له لحـــــاظه تر ټولو تیز الوتونکي (بــاز) دی چې په یوســاعت (۱۸۰km/h) یوسل او اتیا کیلو متره مسافه طي کولای شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: و بــښئ! آیا بــاز لوی وزرونه لري چې دومره تیزالوزی که څرنګه؟

ځواب: نه! دوزرونو دلوی والی له لحــاظه په نړۍ کې تر ټولو اوږد وزری الوتونکی (ویندرنګ البـتروس) دی چې د وزرونو اوږ دوالی یې له یو وزر څخه بــل پورې درې متره او شپېته ســانتي (۳.۶۰) مترو ته رســیږي یعنې د یو تیز تلوونکي موټر په اندازه اوږ والی لري خو د الوتلو سرعت یې لږ دی. دالوتونکو دالوتلو ســـرعت د وزرونو پرلوی والي پورې نه بـــلکه د هغوي طبــیعي خواصو پورې اړه لري. وروسته یې بیا دوه تصویرونه یو د همغه لوی وزری او بل د باز تصویر زده کوونکو ته وښودل.




(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوبڼ د مسئول خبرو په پای ته رسيد و سره ښوونکي صاحب خپلې ګړۍ ته وکتل او زده کوونکو ته يې داسې وويل:

له دې امله چې زمونږ او ستاسو وخت پوره شوی دی، د ژوبڼ له نورو ځانګو څخه کتنه به راتلونکي ته پريږد وا و د ښوونځي په لور به حرکت وکړو. که چيرې کومه پوښتنه نه لرئ د ژوبڼ له مدير صاحب څه اجازه اخلو او د ښوونځي په لور حرکت کوو. وروسته بيا ښوونکي صاحب د ژوبڼ له مسئول کس څخه مننه وکړه او له هغه سره يې مخه ښه وکړه او ټولو زده کوونکو هم له هغه نه مننه او مخه ښه وکړه.

له ژوبڼ نه تر ښوونځي پورې د لياري په اوږدو کې زده کوونکو له ډول ډول ژوو او الوتونکو څخه يادونه وکړه او له دغه علمي سفر څخه يې خوند و اخيست او له دې امله چې هغوی ډير معلومات د دغه علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

سفر په ترخ کې ترلاسته کړي ډیر خوشحاله وو.
ښوونځي ته د رسیدو سره سم ښوونکي صاحب زده
کوونکو ته کورنی وظیفه وکړه ترڅو ټول هغه
معلومات چې دوي د دغه علمي سفر په ترخ کې ترلاسه
کړي په خپلو کتابچوکې ولیکي او سبا ته یې له ځان
سره راوړي.
په پای کې ټولو زده کوونکو له ښوونکي صاحب
څخه مننه وکړه او له هغه نه یې وغوښتل چې په
راتلونکي کې هم دوي په همداسې علمي سفر ژوبڼ ته
یوسي ترڅو چې د نورو ژوو په هکله هم ګټور
معلومات ترلاسه کړي

پای

ژباړن: سید حامد «هاشمی»



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Jahan Haiwanat

(World of Animals)

All rights reserved to (SDO)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 9

# (World OF Animals)


| | | |
|---|---|---|
| Published by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Editor-in-Chief | : | Author Raz Muhammad Dalili |
| Author | : | Ahmad Fareed Arfi |
| Translated by | : | Sayed Hamed Hashimi |
| Composed by | : | S.Nazir Hussaini |

1st Edition : 1000 copies, Financed by (SDO), May 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Nov 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Feb 2008

Publishing date : Apr 2010
Number of copies : 2 000 copies
Financed by : Sanayee Development Organization (SDO)



Kabul address : Sanayee Development Organization (SDO)
Qala-e-fatiullah 9th street, Near Shahoon Electricity Junction
Kabul telephone : 0093-(20) 2201693
Post Box : 181 Kabul Afghanistan
Email : sdfkabul@ceretechs.com
Websites ; wwwsanayee.org
Www.nawidefarda.com

Peshawar Address : Kabul English Language Center,
Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan
Telephone : 0092-91-5842155 - 91582165
Fax : +92+-1-5845139


**All Rights Reserved**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**